## د شفتالو او شلیل د ورایټی ګانو ځانګرتیاوی

### ۱. Sun crest سن کرست ۲۶۰

د لوړ حاصل لرونکی او قوی ونی درلودونکی دی. همدارنګه میوه یی غټه، جوسی او ګرده ده. د پوټکی رنګ یی زیړ او روښانه سره خطونه لری. غوښینه برخه یی نسبتا سخته او زړی یی په آسانی سره جلا کیږی.



### ۲. May crest مایکرست ۶۳۰۳

مایکرست د ژر رسیدونکی شفتالو څخه دی چی معمولا د می میاشتی په منځ کی پخیږی. میوه یی ګرد شکل لری، د پوټکی رنګ یی سور او د غوښینی برخی رنګ یی زیړ دی.



### ۳. Flavor crest فلور کرست ۶۳۰۱

ددی ورایټی ونه قوی مګر حاصل یی متوسط دی. میوه یی غټه، سخته او د پوټکی رنګ یی زیړ دی چی ۷۰٪ د سره رنګ پواسطه پوښل شوی دی. غوښینه برخه یی په زړی پوری نښلیدلی ده. خوند یی ښه او معمولا د جون په منځ کی پخیږی.



### ۴. Caldesi Nectarine شلیل کالدیسی ۷۱۴۸

دا ورایټی د ښه حاصل لرونکی ده. د پوټکی رنګ یی سور او جذاب دی. د غوښینی برخی رنګ یی سپین دی. معمولا د جولای میاشتی په آخری کی پخیږی.



### ۵. Flavor top Nectarine شلیل فلور تاپ ۶۲۱۹

دا ورایټی قوی ونه لری چی د لوړ حاصل ظرفیت لری، میوه یی غټه، سخته، جوسی، او د ښه خوند لرونکی ده. د پوټکی رنګ یی سور او زیړ خالونه لری. غوښینی برخه یی زیړ رنګ لری او زړی یی په آسانی سره جلا کیږی.



### ۶. Ambra Nectarine شلیل امبرا ۷۱۴۶

د ژر رسیدونکی انواعو سخه ده او حاصل یی هم ښه دی. میوه یی مناسبه اندازه، ګرد شکل، او خوند یی نسبتا تیزابی دی. پوټکی یی سور رنګ او غوښینی برخه یی زیړ رنګ لری.



## د افغانستان د بڼوالی د پرمختیا ملی موسسه

د بڼوالی د خصوصی سکتور د پرمختګ حمایه کول

# د شفتالو او شلیل د پخوالی ځانګرتیاوی



**پته:** د زراعتی کوپراتیفونو تعمیر، بادام باغ، کابل، افغانستان

**ایمیل:** info@afghanistanhorticulture.org

**ویب:** www.afghanistanhorticulture.org

**د اړیکی شمیره:** +93 (0) 202 232 022

نوموړی پروګرام د اروپایی ټولنی لخوا تمویلیږی

## د شفتالو او شلیل د پخوالي ځانګړتیاوې

- **د میوه اندازه او شکل:** په اعظمي اندازه د شفتالو او شلیل د میوې انکشاف د هغوی د پخوالي څخه نمایندګي کوي.
- **د میوې رنګ:** د رنګ تغیر د شین څخه سور ته او یا سور او زیړ ته چې د میوې په انساجو کې د موجودو پګمنتونو په واسطه تغیر خوري د شفتالو او شلیل د پخیدلو نمایندګي کوي.
- **د میوې د سختوالي او نرموالي اندازه:** د پخوالي په وخت کې د میوې د سختوالي اندازه کمیږي چې د پخوالي لپاره ښه ځانګړتیا ده. د میوې سختوالي او نرموالي باید په دومره اندازه وي چې وکولای شو هم یې په تازه ډول استفاده کړو او یا هم میوه لیرې مارکیټ ته په ښه حالت ورسیږي.
- **د قند اندازه:** د پخوالي یوه مهمه ځانګړتیا ده چې د پخیدلو په وخت کې د میوې د قندو اندازه ٪۱۰ او یا تر هغه ډیر وي.

## د شفتالو او شلیل د راټولولو وخت:

د میوو د پخوالي ځانګړتیاوې د هغوی د راټولولو د وخت تعین کونکې دي.

د شفتالو او شلیل وخته پخیدونکي، متوسط او ناوخته پخیدونکي ورایټي ګانو د پخوالي وختونه په سیستماتیک ډول د تحقیق په نتجه کې مطالعه شوي چې لاندې ذکر شوي.

- د شفتالو او شلیل پخوالي د جولای میاشتې د اوسط څخه شروع کیږي او د اګست میاشتې تر اخره دوام کوي. چې د داسې ورایټي ګانو له جملې څخه کالدیسي، می کرست، فلورتاپ، سن کرست او امیرا د لوړ حاصل لرونکي او وخته پخیدونکي دي.
- فلورکرست، شلیل شب رنګ، ماکس، نمبرپنج او بیګ تاپ د متوسط وخت پخیدونکي ورایټي ګانو څخه دي.
- سمرلیدي، سویت رید، راین سن او اولیوین د ناوخته پخیدونکي ورایټي ګانو څخه شمیرل کیږي.

**جدول: د شفتالو او شلیل د پخیدلو وختونه**

| نوع | کلون نمبر | July(جوزا) | | | August(اسد) | | | September(سنبله) | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تاریخ رفع حاصل | | زوده | میانه | نا وخت | زوده | میانه | ناوخت | زوده | میانه | ناوخت |
| کالدیسی | 7245 | | | ✓ | | | | | | |
| می کرست | 259 | | | ✓ | | | | | | |
| فلور تاپ | 6302 | | | ✓ | | | | | | |
| سن کرست | 260 | | ✓ | | | | | | | |
| فلور کرست | 6301 | | | | ✓ | | | | | |
| شلیل شب رنګ | 810 | | | | | | ✓ | | | |
| مکس | 7149 | | | | | | ✓ | | | |
| سمر لیدی | 7185 | | | | | | | ✓ | | |
| سویت رید | 7150 | | | | | | | ✓ | | |
| نمبر 5 | 7286 | | | | | | ✓ | | | |
| راین سن | 7186 | | | | | | | ✓ | | |
| بیتیو کث | 7187 | | | | | | | ✓ | | |
| اولوین | 7284 | | | | | | | ✓ | | |
| بیګ تاپ | 7147 | | | | | ✓ | | | | |
| امیرا | 7146 | | ✓ | | | | | | | |

## د شفتالو او شلیل د ساتلو ځانګړتیاوې:

1. **د تودوخې درجه:** د شفتالو او شلیل د ذخیره کولو لپاره تر ټولو مناسبه د تودوخې درجه د (۳-۴) درجه د سانتي ګرید ده. د تودوخې نوموړي درجه کولای شي چې د میوې د ساتولو قدرت تر ۱۰ ورځو پورې ورسوي او دې ته زمینه برابره کړي چې محصول د مارکیټ د تقاضا په وخت کې وړاندې کړو. همدارنګه د میوې د ساتلو وخت د میوې د پخوالي په ځانګړتیاوو پورې هم اړه لري.
د میوې د ساتلو په وخت کې نامناسبه تودوخه د میوې د خوند خرابوالي او د امراضو د رامنځ ته کیدلو سبب کیږي.
2. **د رطوبت فیصدي:** د شفتالو او شلیل د ساتلو لپاره د رطوبت مناسبي فیصدي ته ضرورت شته چې باید د (۹۰-٪۹۵) پورې وي. د ساتلو په وخت کې د رطوبت کموالي د میوې کیفیت او ښایست خرابوي.

## د راټولولو وروسته په شفتالو او شلیل کې مشکلات:

1:Fruit skin Inking- د میوې د پوټکي سوځیدل
2: Lack of Red color د سور رنګ نه معلومیدل
3: Internal Breakdown داخلي مشکلات


داخلي مشکلات


د پوټکي سوځیدل


کم رنګ کیدل

## د راټولولو وروسته د شفتالو او شلیل عمده مرضونه

1:Brown Rot- قهویي ورستیدل
2:Gray Mold- خاکستري پوپنک
3:Rhizopus Rot- رښیي ورستیدل


رښیي ورستیدل


خاکستري پوپنک


قهویي ورستیدل